ليکواله سوزانه کووبل
ژباړن سراج الحق ببرک زی ځدران
د جرمني د ديرشپيګل مجله د نوامبر دولسمه نيټي له خپرونه څخه

# جنرال په ورکو لارو کور کې

مشرف غواړي پرخپل بيړني حا لت واک په هيواد کې وساتي.
لوديځې نړۍ په نيمه غړ د اعتراض ږغ پورته کړو، ځکه دوي په مشرف کې د اسلاميستانو د بيا راڅوندی کيدونکې ځواک په جګړه کې او د پاکستان اتومي ځواک د لمنځه تللو ذمه وار سړي ويني.

مشرف په يوه بې واکې يا وحشي او کابو نه حکومتي کيدونکې هيواد کې پاتي دي، ځکه دې يو څو فوق ا لعاده ځنګړتياوي لري. دغه جنرال يو لوبغاړي دي او پوهيږي چې له ځان سره څنګه مرسته وکړي. ورسره ده ته هېڅ مهمه نه ده چې ژمنه وکړي او يا ستر زړورتوب وکړي، ځکه دي په کافي اندازه په درغلي او بې اصولي سمبال دي. تر اوسه يې هم د پاکستان پر روانو حالاتو او په ده باندي ترسره شويو ځانمرګې بريدونه چې له هغي نه دې بچ شوي هم دي، پرهغه ترهګرو چې نه يواځې په افغانستان کې بلکې په کراچي، اسلام اباد او پېښورکې په ځغرده بريدونه کوي، کومه ګيله يا دعوا نه ده کړي.
داسي دی د يو جنرال ژوند په يو هيواد کې چې دې د هغه ولسمشر هم دي. دغه هيواد شپيته کاله ورسته له جوړيدو څخه يې يوه مصنوعي بڼه يا جوړښت لري، د يو په پښو دريدلې دولت په پرتله.
څلورشپيته کلن مشرف د نورو ولسمشرانو په پرتله دې ډير خپل شخصي ژوند اړخونه خلکو ته ښکاره کوي.
دې په يو ډير مجلل زړه وړنونکې او د کولړنيال ډوله ستايل کور کې چې د پنډي ښار په پوځې اډه کې له کلکو امنيتي څارني لاندي دي اوسيږي. دې بيا دلته په ډير ساده، بي موده او د ځوانانو په ډول اوسيږي.
کله کله دی بيا خپله مور ،،زرين،،هغو ميلمنو ته چې عزت يې کول يې غواړی ورپيژني. د هغي په نامي يې خپل کتاب ډالي کړي هم دي. مشرف په دی اړه هم فکر کړي دي چې خپله ښځه ولسمشري ته وتاکې او خپله دی د پوځ لوي درستيز پاتي شی. خو بيا دغه مفکوره دی زر پريښودله.
مشرف له ملګرو سره ماښام په خپل کورکې پر راڼا انګريزي فرنيچرو باندي جوارګري يا قماروهي په پرې لوبې کوي. په مجلس کې ويل کيږي چې د پيل پيسي ډيري جګې دي، اټکل سل يورو دي.
مشرف وايې. زه دغه لوبه په خپل ژوند کې په مينه کوم او زه مجبور يم چې دغه د جواري لوبه وکړم. کله چې دغه جنرال ـ ولسمشر په ډيرو پيسو لوبه کوي ، خامخا يې ګټي.

اته کله مخکې د پوځې کودتا له لاري واک ترلاسه کړ، د يولسم سپتمبر له پيښي ورسته يې ستر بدلون وکړ، سره له دی چې پاکستان يو اسلامي هيواد دی خپل هيواد يې د ترهګري په جګړه کې د امريکې په پلوي ودروه.
د دغه هيواد آي اِس آي طالبانو او نور اسلامي ډلي جوړلي کړي او ورسره ډير نږدي شوې وه. ډير وخت په خپلو ويناو کې کله چې دی د هيواد ثبات او ولسواکي خبري کولي باوري بريښوده.
د دغو خبرو وخت اوس نوره تيرشوي دي. مشرف هغه څه وکړل څه چې يو يواځيني ټولواک حاکم يې تل کوي. دی ځان ضروري ګڼي، دی تيار دي چې د ولسواکې لپاره څه چې پاتې دي هغه هم قربان کړي.
زه يا زما زوال ،،ډوبېدنه،، دغه د دی پيغام دي، همدا اوس دی د خپل واک ټينګولو لپاره په يواځيتوب سره مبارزه کوي له ټولو ګواښونو او درغليو سره.
په دريم د نوامبر په خپل هيواد کې اضطراري حالات اعلان کړ. د دغې بيړني حالاتو اعلانول په غبرګون کې مشرف بايد هېڅ هيران شوی نه وي.
په هيواد کې يوه وړه برخه روند اندو نه شي کولي د قاضيانو لري کول، سياسي مخاليفين په کور کې نظربندول، د ډليزو رسنيو سانسور، د شخصي ټلويزيونو بندول وزغمي. د مقاومت خنډ څوکه چې د هند په نيمه وچه کې دود لري وکيلاونو جوړه کړي ده. ځينی پاکستانيانو ژړل کله چې ولسمشر د شنبه په ورځ خپله عجيبه ټلويزيوني وينا واروله.
په ساده توره شيرواني دريشي کې وينا کوله او ځان يې دامريکي له پخواني ولسمشر ابراهيم لينکولين (۱) سره پرتله کاو.
په قهرجنه اعصباني لهجه، خولي پرماتې، لاسونه يې تريدل کله چې ده د وينا پاڼی په لاس نيولی وی. وويل، دی مجبور دي چې ولسواکې له اسلاميستانو څخه وژغوري.

دغي اضطراري حالات جنرال ولسمشر يوار بيا کمزوري کړ او د خپل روزونکې سره يې مخامخ کړ چې له هغه نه دې ډېره کولي او لاس اخيستي هم نه شي. هغه امريکا او د بوش حکومت دي.

له يو کاله راپه ديخواسپيني ماني او د انګلستان حکومت د مشرف او د دى ستره سياسي سياله بېنظر بوټو ترمنځه له ډيرو ټينګو هڅې سره منځګوتوب وکړو. دواړو د واک پر ويش سره سلاح شول.

مشرف اجازه لري د نورو پنځو کالو نو لپاره په خپله دنده کې پاتې شي او بايد د پوځ مشري پرېږدي.

بېنظير بوټو بايد د نوي حکومت ولسواکه څيره څرګنده کړي.

د لوي کورنې لور ډيره په هيواد کې محبوبه ده. د هغي بيرته راتګ د دوبى له جلاوطني څخه په کراچي کې له ځانمرګو بريدونو سره مل وه چې ۱۳۹ مړي تر شا برېښودل.

بوټو په درنښت سره د ولسواکې کومه رڼا څيره نه ده بلکه غبرګون يې ده.

هغه دوه ځلي صدراعظمه وه، د هغي دندي دورې د اداري فساد، بدې، رسوايې سره ختمي شوى.

مشرف دومره کمزوري شوي دي چې بله لار يې نشته بيله دى چې د واک ويشلو ته تسليم شي.

د اضطراري حالت اعلانولو ته يې ځان ايله غښتلي احساس کړ، چې د واک لاسته راوړلو لپاره شرايط اماده کړي.

له هم دې مهاله لوديز خپل ګران ديکتاتور ته خپله بدرنګه څيره ورښي. دوي وايې. دى خپل پوځي ځواکونه پرېږدي چې مدافع وکيلان له دريشيو او نکتاييو سره چې له قانون څخه دفاع کوي په ډنډو ودبوي او کله چې بېنظيربوټو خپل لاريون له سلهاوزور خلکو سره پر اسلام اباد اعلان وکړ، هغه يې په کور کې نظربند کړه.

په لوديځ کې د هغو انځورنو اغيزه چې پر منلي شويو مدافع وکيلانو او لاريون کونکو باندي اوښکوبيونکي غاز، په ډليزه توګه زندان ته اچول، په ډنډو وهل او تکول وو، لېږ وه.

پاکستانيان په خپل لنډ تاريخ کې له مارشاله او ليونيو ولسمشرانو سره روږدې دي. يوې زده کونکي د کراچي ښار په يو لاريون کې پر يو شعار ليکلى وو ، هيله کوم يواځې يوه ښه سوک ولسمشرته.

په بهرني نړۍ کې غبرګون لږڅه نرم او له احتياط څخه ډک وه. ولسمشر جا رج بوش له مشرف سره شل دقيقي ټيلفوني خبري وکړي. هغه ته يې خپله زړه بدۍ ښکاره کړه او ورڅخه يې وغوښتل، چې څنګه مو خبره کړي دي، د پوځ د لوى درستيز دنده څخه به استعفا او ژر تر ژره ټاکنى ترسره کوي. ورسره بوش دې د ترهګري پر وړاندي جګړي کې خپل متحد ونوموه.

د انګريز بهرنيو چارو وزير ګوردن بران وويل موږ به خپلي اند ښنني او تدابير په لوړه کچه مطرح کړو..

د المان بهرنيو چارو وزير شتين ماير د پاکستان دغه اقدام د يوي ليواني تباه کوونکې لاري په نامه ياد کړو.چين هسى ولسواکې ته د لوديځ يو مکر په څير ګوري او په غبرګون کې وويل موږ په دى باور يو چې د پاکستان حکومت او ولس به دغه بحران په خپله هوار کړي.

ټول په دى فکر کې دي چې مشرف به يو واربيا بريالې شي. ټولو ته ګرانه تماميږي له هغه څخه هوښيار شي او پوښتنه کوي، ايا مشرف په اصل کې دوست دي که دښمن او يا دواړه؟

ځواب دا دي چې مشرف د پاکستان په خوا کې ولاړ دي، ده ته دا معنا لري د پوځ په خوا کې بايد وي.

مشرف په خپل کتاب کې ،،د اور پر کرښه،، کې ليکې. يونيفورم زما دوهم پوستکې دي.

مشرف له څلويښتو کالو څخه ډير په پوځ کې خدمت کړي دي. له کال ۱۹۴۷ راپه ديخوا چې د هيواد خونړي بنسټ اېښودل شوي دي، پوځ يواځيني مقام دي چې دولتي واک او ملي سمبول اتومي وسله يې ساتلي ده.

پوځ د حکومت، ټولني، د پوځې لښکر کوټونو څخه هغه خوا استخباراتو دنده کي ښکيل دي.

پوځ په پاکستان کې يو لوى شرکت دي، بانکونه کنټرولوي، د سمنټو فابريکې لري، هوايې کرښي لري، کارنفلکس جوړوي، تر ټولو مهم د ځمکو د اخيستلو او پلورلو سترمارکټ دي.

هيڅ يو پوهنتون او د تيلو کمپنى او چانځي نشته چې د يو متقاعد جنرال له خوا په مستقيم او يا غيرمستقيم ډول نه کنټرول کيږي.

مشرف د دى ټولو يو په بل کې ننووتې بې رحمه ځواک امر دي.

ده د يو ځوان افسر په توګه د قوماندانې پوځې زده کړه چې د دښمن دفاعي کرښي تر شا ښکته شى کړي ده. چې د دښمن د ټول مقاومت سره ځان خپلي موخي ته ورسوي. دا د ده څرنګوالى او د کرکتر حالت بيان وي. چې دى لازمه وګني، بيا دى د خپل ولس د لوى اکثريت پرضد او د نړيوالې ټولني پر ضد هم دريږي. ډير لږ د بې مخو او بهادره مانورنو نتيجه يا اغيزه اټکلولي شي.

له همدې سره ګواښ نوره هم ډيريږي او د ده په انده بايد دغه ګواښ په دې کې دي چې د پوځ له مشري استعفا وکړي او ځان په ملکې ولس مشربدل کړي.

په شپږم د اوکتوبر ده په يوه دروغو جنه او نانديريږه ولسواکې کې ځان ولس مشر وټاکه. ده ويلي وه، که دى بيا د سترې محکمې لخوا ومنل شي، دى به خپل دوهم پوستکې له ځانه وباسي.

د سترې محکمې يو غړې دى پوهولي وه، چې د سترې محکمې قاضې افتخار چودري د ده ولسمشرې به نا قانونه اعلان کړي ځکه دى هم مهاله د پوځ لوى درستيز دي .

قاضي په رښته يا حق کې وه، ځکه د اساسی قانون له مخي افسران باید لوړه وکړي چې په سیاسي چارو کې برخه نه اخلي، دغه ماده د جنرال په برخه کی هم تدبیق کیږي.
په پنځلسم د نوامبر د ولسمشر د دندې موده پای ته رسیده، د پوځ په مشري هم تل نشي پاتي کیدلي. ځکه دغه پوست ده د اي اس اي پخواني مشر پرویز کیهانې ته ورسپارلي وه. له همدي سره د پرویز مشرف سیاسي او پوځي مقامونه پاې ته رسیده.
په دغه صورت کې به دا هیواد د ګدوډیو سره مخامخ یا د اسلامیستانو لاسته ورغورځیدلي وای که نه وی؟
دا حتمي ده چې د جنرال ولسمشر د تلو سره به ناوړه او احتمالان له وینو سره مل د واک پرسر د ګوندونو او مشرانو تر منځه خونړي جګړي به پیل شي.
د مشرف پرمنطق اضطراري حالت اعلانول یواځني لاره وه چې د ګډوډیو او انارشي مخه ونیولسي.
د ده سرسخت مخالفین نن طالبان یا القاعده دمره نه دی لکه په مذهب نه ولاړ وکیلان، قاضیان او د بشري حقوقو پلویان دي.
مشرف پردوي تور لګوي چې د ده جګړه د اسلامیستانو پر ضد لمنځه وړي. د بشرد حقوقو د فعالینو له خوا د حکومت پر پلټنومامورین باندي تورلګیږي، چې شکمن اورپکې په مسلسل ډول له بند څخه خوشیکیږي، ځکه محکمی ته د سپیناوی پوره شواهد نه وړاندي کیږي.
په هیواد کې تلویزیوني خبریالان په خپل راپورنو کې پر دغه کړنلار باندی ګوتنیونه کوي او وایې چې د امنیتی ځواکونو پیاوړتوب کمزوري کوي.
اته پنځوس کلن افتخارچودري یواځیني سړي دی چې د ولسمشر پر وړاندي مقاومت کولی شي.
د سترې محکمې قاضي چې اوس په کور کې نظر بند دي وایې اساسي قانون ترپښو لاندي ځیري کړل شوي دي. دغه سړي چې بریتونه او پر ټنده ګونځې لري هم وویل دا د جګړي لومړني پړاو دی د زیاتې او تیري پرضد اوس د قربانیو وخت رارسیدلی دي چې دا دیکتاتوري ختمه کړو.
دغه خبري ده د تیلیفون له لاري لاریونکونکو ته کولي چې د ډیرو چکچکو او ستاینی سره بدررقه کیدي.
په پاکستان کې دا عامه خبره ده، چې واکمن او ناراضي حقوقپوهان د بډو او جوړشویو محکمی ته ودرول شي.
چودري د مشرف یو ټینګ او ښه پلوي و، ورو ورو یې ځان د رژیم ګوتنیونکې باندي بدل کړ. دغې ستر قاضي د حکومتي پولادو کارخانو شخصی سیکتورته اړل په ټپه ودرول. له دی سره ده غوښتل په یو سمبولیک ډول د پوځ نوره شتمن کول ودروي. پوځ د پولادوکارخانی او نور موسساتو څخه په ناوړو ګټه اخیستني کوي، دا هیواد یې لکه یوخلاص پلورنځي جوړ کړي دی.
چودري د بشري ضدجنایاتو له قربانیانو، خپلوانو او له بلوچستان څخه ورک شویو خلکو سره مرستي کوي. دلته د ده د زړیدو ایالات په ډیره برخو کې له پخوا نه د پوځ سره کورني ډوله جګړ او اخ ډب روان دي. یو علت یې د ځمکو لاندې د شتمنیو دناسم وېش په سره دي. چودري په واضع توګه د ویناو پر مهال په مشرف بړغ کوي، که ولس مشر پاتې کیدل غواړي نو د پوځ جامع باید وباسی.
دا خبره مشرف ته دزغم نه وه د مارچ په میاشت کې دغه قاضی د دولتي دندو څخه د ناوړه کټي اخیستنی په وجه له خپلی دندې ګوښه کړ.
د چودري یو باوري ډیپلومات وایې موږ ته ډیر لوړ رتبه جنرالان راغلل او موږ یې وهڅولو چې دا کړکیچ په هر ډول چې وی باید ژرترژره حل شي.
چاودري وایې ما ژور فکر وکړ، زه به خپلو ماښومانو ته څه وایم؟ پیسي که یو ښه نوم !
پس له ځښتو ډیرو لاریونو د محکمی ناندریزه پریکړو څخه چودري بیرته خپل دفتر میز ته راغي.
بیا امنیتي ځواکونو د نوامبر په دریمه پرستره محکمه باندي چاپه ووهله او چودري یې بیا له دندې لرې کړ.
ولسمشر په همدي بهیر کې حکومتي لوړه وکړه.
تر تیري جمعې پوري اضطراري حالات مشرف ته څه نا څه یو ه لاسته راوړنه وه.دي مجبور دی چې جوړجاړي ته مخه کړي، ځکه د ده واک سوکه سوکه په ولیدو او ښویدو دي.
د پنځلسم د فبروري نه مخکې یعني په جنوري کې باید د ولسي جرګی ټاکني ترسره شی.
بېنظیربوټو سره د ټولو خبرو اجازه لري صدراعظمه شي او مشرف ولسمشر پاتي شی خو د پوځ مشر نه شي کیداي.
دا هغه څه دي چې باید وشي . بیا نو دا ضطراري حالات د څه لپاره ؟
له بهره مرستي سره له دغې بحران راروانې دي. متحده ایالات میاشت په میاشت سل میلیونه ډالر چې ډیره برخه یې د پوځ تجهزاتو لپاره مصرف کیږي وراستوي.
پاکستان د نور هیوادو په پرتله نړیوالي ټولنی ته یو لیواني خوب ځکه دي که د دوي اتومي وسلاح اسلامیینسټپالو ته په لاس ورغله، دوي بیا د لودیځ د مرګ دښمننان څخه ډیره ویره لري.
د افغانستان له جګړې څخه را ورسته طالبان او د بهرني ترهګر د قبایلو د نه کنټرول کیدونکی په سیمه کې راټولیږي . دا په زرګونو افغان، پاکستاني،اوزبک،عرب حتی ځیني اروپایي او امریکایي اورپکې، چې دوي نړیوال جهاد پرمخ

بیایي د دغو نړیوالي ترهګرو ځالي موخه د کابل او اسلام اباد حکومتونو لمنځه وړل او لودیځ ته نوي ماته ورکول دی.
دغو بنسټپالو اور پکو اوس د پاکستان په شمال لودیځ کي وروړو کلي په کلي، ولسوالي په واسوالي واک او بری موندلي دي. څوک چي سر جګوي هغه وژل کیږي د شمالي او سویلی وزیرستان قومي مشران وایي. د هیواد دا سیمه د نوی نسل طالبانو او القاعده لخوا کنټرول کیږي.
په تیره اوني کی د طالبانو مشر ملا عمر یو پالوال یا وفادار د سوات ښکلي سیمه چي اټکل نیم میلیون وګړي لري او د سیلانیان لپاره یوه په زړه پوري سیمه ده، د اعمارت یوه برخه اعلان کړه. طالبانیزیسشن له ورایه را روان دي. د المان هینریش بول ټولني مشر ګیورګ ارنرسته په لاهور کي وایي. هیڅ څوک نه پوهیږي څکه د قبایلي سیمه او د بلوچیستان یا د ډیورنډ کرښه ته نږدي خبریالان نه شي ورتللی. له همدي ځای څخه طالبان خپل مقاومت د امریکي او ناټو پوځیانو سره تنظیموي. د پاکستان په سیمه کی دوي د جګړي لپاره ترنیګ کوي او د بریدونو ورسته بیرته پر نا معلومه کرښه شاتګ کوي.
افغانستان هیڅ کله ثبات نه شي موندلي تر څو چي دغه د بنسټپالو مخالیفینو مقاومت نه وي درول شوي.
لودیځ د اسلامي بنسټپالو پر وړاندي جګړ کي مشرف ته اړ دي. بوش دی د دوهمي کودتا ورسته هم یو نه جبران کیدونکي ملګري ونوماو. په پاکستان کي بله یو نوی څیره به لودیځ ته نوي ګوابنونه او د نا امني فکتورنونه رامنځته کړي.
داسي له دوي سره منلي شویده چي مشرف به پاتي کیږي او بوټو به راځي. د اتو کالو جلاوطني څخه ورسته اوس هم بوټو په خلکو کي محبوبیت لري. هغه کولي شی خپل ګوند پیپلسپارتي ملګری چي د پاکستان د لویو ګوندونو څخه ګڼل کیږي په لارو او اتونو کي راوباسي. لودیځ غواړي د پیپلسپارتي، مسلم لیګ او د مشرف پلویان یو کوالیشن جو کړي، دا به یوه هیله وي چي مذهبي ډلي مخه ونیسي.
بنظیره د جمعه ورځی نه را په دیخوا نظربنده نه ده، هغه توندي ویناوي د بیرني حالاتو پر ضد کوي او په ټول هیواد کي د ولسمشر پر وړاندي د سترو لاریونو ګوابنونه کوي. ورسره غواړي د کړکیچ کچه راټیته کړي. هغه به بریالي راووځي. ولسمشر که جوړه ونه کړي هغي ته امتیاز ورنه کړي، دی به ډیر نوره کمزوري شی.هغه څه چي ده د اضطراري حالات له لاري مخه نیوله رامنځته شی.

پای

د ژباړن شرخه.
۱.
ابراهیم لینکولین
په کال ۱۸۶۰ کي د امریکي متحده ایالاتو شپاړسم ولسمشر وټاکل شو، بیا په کال ۱۸۶۴ د دوهم ځل لپاره هم وټاکل شو. دي د امریکي له ډیرو مخورو ولسمشرانو څخه ګڼل کیږي ، د جمهوری غوښتونکو د ګوند څخه وه. د یولسو غلامانو بیلولو سره د سویلي ایالاتو او شمالي ایالاتو تر منځه کورني جګړه پیل شوه. ده د متحده ایالاتو رامنځته کیدل او د غلامانو ازادي او د هغه حکومت لاندي لاره د نوي مرکزي دولت او لاره یي د شلمي پیړي نړیوال ځواک ته خلاصه کړه.